DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۶۱
شماره مسلسل ۹۲۸
سه شنبه ۱۸ دلو ۱۳۸۴ هش
۸ محرم الحرام ۱۴۲۷ هـ ق
7 February, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

تصمیم گیری روی ایجاد دسته های پارلمانی به تعویق افتاد



بحث و تصمیم گیری در باره ایجاد دسته های پارلمانی تا ماه حمل سال آینده به تعویق افتید و کلای پارلمان در نشست دیروزی فیصله بعمل آوردند تا بحث به تصمیم گیری درین مورد پس از دوماه صورت گیرد پیش ازین کار تصویب و طرز العمل وظایف دایمی پارلمان و دادن رای اعتماد به کابینه نیز به تعویق افتاده بود.

همچنان شایعه وجود دارد که ائتلاف های بین حامد کرزی و یونس قانونی در مورد انتخاب کابینه صورت گرفته است اما آقای قانونی که در یک نشست خبری عصر دیروز صحبت میکرد این شایعه را رد نمود.

اعضای مشرانو جرگه
خواستار اجازه حمل اسلحه شده اند

اعضای مشرانو جرگه در پارلمان کشور از دولت خواسته اند تا برای امنیت شخصی شان اجازه حمل اسلحه داده شود بخاطر وضعیت امنیتی در کشور بویژه در مناطق جنوبی یک کمیسیون ایجاد گردیدتا وضعیت را بر رسی نماید قدم علی نیک پی مسوول دفتر مطبوعاتی مشرانو جرگه به خبر گذاری پژواک گفته است که سناتوران به لحاظ وضعیت امنیتی د رمناطبق جنوبی کشور نگران شده اند او گفت که یک کمیسیون موقتی تشکیل شده تا وضعیت را بر رسی کرده وگزارش آنرا به مجلس ارایه نماید.

سفیر نور محمد، انجینر محمد هاشم، سفر محمد کاکړ، حاجی شیر محمد بارکزي، محبوبه حقوقمل و داکتر احمد زلمی اعضای این کمیسیون اند، امین الدین مظفری سکرتر اول

مشرانو جرگه گفته است جرگه تصمیم گرفته تا برای هر عضو دو محافظ و یک میل اسلحه توزیع گردد.

آغاز برنامه آموزشی

کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان برنامه ای را بمنظور آموزش داوطلبان برای حفاظت از حقوق کودکان آغاز کرده است این برنامه بار نخست در ولایت شرقی ننگرهار به اجرا در آمده است. مسوولان کمیسیون حقوق بشر درین ولایت میگوند که این گروه های داو طلب که از سوی کمیسیون حقوق بشر آموزش می بینند برای بالا برده سطح آگاهی مردم در مورد حقوق کودکان تبلیغ خواهند کرد تا کنون ۲۱ تن به این منظور آموزش دیده اند.

په کابل کې ډنمارکی ورځپانې دغندلو پر موخه لاریون وشو

دکابل په وزیر اکبرخان سیمه کې دکابل ښار په لسګونو تنو داسلام دلارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دهغو کارتونو دخپراوي دغندلو پرموخه لاریون وکړ چې په ډنمارک کې یوې ورځپانې خپاره کړي وو ولسمشر کرزي، دبهرنیو چارو وزیر عبدالله او پارلمان دغه کار لاله پخوا سخت غندلی و. خوست، لغمان، بدخشان او نورو ولایتونو کې هم لاریونونه شوي دی

سفیر پاکستان: در امور داخلی افغانستان هیچگونه مداخله صورت نگرفته است

مقامات پاکستانی میگویند که دولت آنکشور در امور داخلی افغانستان هیچ گونه مداخله نکرده است سفیر پاکستان در کابل به تلویزیون طلوع گفت آنانیکه ادعا میکنند که هراس افگنان از پاکستان داخل افغانستان میگردند مخالف مناسبات دوستانه بین دو کشور هستند.

وی می گوید: آنهاییکه به عملیات تروریستی دست می زنند، کسی ثابت نکرده است که آنها از کجا میایند. آنهایی که فکر می کند که پاکستان در عقب قضیه اند. به غلط فهمی گرفتار اند، پاکستان افتخار می کند که روابط دوستانه و برادرانه با افغانستان داشته باشد.

سرمقاله

د محرم الحرام لسمه د ستړو درسونو ورکوونکی

د محرم الحرام لسمه نیټه زمونږ په اسلامي تاریخ کې د خانګړی ځای درلودونکی او له غمونو او دردونو ډکه یوه ورځ ده ځکه چې پدې ورځ د اسلام د سپیڅلی پیغمبر لمسی حضرت امام حسین (رض) د خپلی کورنۍ او خپلو وفادارو او په اسلام مینو ۷۲ ملګرو سره د کربلا په سوځوونکی دښته کې د یزید د پلویانو له خوا د شهادت جامونه څښلی. دغه تاریخي ورځ خوله دردونو او غمونو ډکه ورځ د نړۍ د ټولو مسلمانانو له خوا د هغو شهیدانو پاك روح ته په دعا کولو سره نمانځل کیږي.

پدې ورځ د شهیدانو یاد ته په درناوی او دعا سره د هغوی د سرښندنی، مقاومت، کلك هوډ او یزیدي پلویانو د ظلمونو او ناروا وو په هکله ویناوی اوروي او مونږ ته دا ثابتوي چې حضرت حسین (رض) د خپلو ملګرو په کلك او نه ماتیدونکي تصمیم سره د حق او باطل تر منځ کرښه یو ځل بیا لاجوته کړه او مونږ ته یې د خپل شهادت او کلك تصمیم او مبارزې په کولو سره ستر درسونه راکړل. د هغوی مبارزې او شهادت دا را په ګوته کوي چې باید دخپل ژوندانه په ټول بهیر کې د خپلې عقیدی د ساتلو دفاع او دغه راز د ظالم د رسوا کولو او په مقابل کې یې د مبارزې روحیه ژوندی وساتو. حق ته حق ووایو او د ناحقو په ښکاره کولو کې له هیڅ ډول هڅو څخه ډډه ونه وکړو او ظلم ته سر تسلیم نه شو.

زمونږ په ټولنه کې هم داسې کسان موجود دی چې تل د ظالم او ناروا په کولو سره د مظلومو او د حق د پلویانو په لاره کې خنډونه اچوي او د خپلو ګټو په خاطر له وژلو او ورانولو لاس نه نیسي نو باید دحضرت امام حسین له مبارزې څخه په الهام اخیستو سره باید د ظالم قاتل او مجرمینو په رسوا کولو او دهغوی په وړاندي د سر سختی مبارزې له کولو څخه ډډه ونه کړو.

زمونږ دمسلمانو هیوادوالو دنده ده چې د عاشورا په دغه ورځ کې د شهیدانو پاك روح ته د دعا په کولو سره یو ځل بیا د ظالمانو وژونکو او مجرمینو، هیواد او خلکو ته د خاینو عناصرو په رسوا کولو او د هغوی په وړاندي د خلکو او هیواد د ګټو په خاطر له حق ویلو څخه سرونه غړوی او خپلی مبارزی جاری وساتي کله چې مونږ د حق او حقیقت په لاره خپل حرکت پیل کړو نو په هغې صورت کې ویلای شو چې له اوسنیو ټولو ناخوالو څخه به د یوې ښیرازي او نیکمرغی ټولنی په لوری ګامونه چټك پورته کړای شو.

تظاهرات اعتراض آمیز به خشونت کشید



در جریان تظاهرات معترضان به چاپ کاریکاتورهایی از پیامبر اسلام که در شرق کشور روی داد دست کم دو نفر کشته و چند نفر زخمی شده اند.

، این تظاهرات در شهر مهترلام، ولایت لغمان برگزار شده بود و به گفته مقامات دولتی، پس از آنکه تظاهرکنندگان به پرتاب سنگ به سوی یک پوسته پولیس مبادرت کردند و با افسران درگیر شدند، پولیس به فیر پرداختند که باعث کشته شدن یک نفر شد.

در جریان درگیری بین پولیس و تظاهرکنندگان، چهار نفر دیگر هم زخمی شدند که براساس برخی گزارش ها، دو تن از آنان افسران پولیس بوده اند.

از قول یکی از مقامات پولیس گزارش شده است که در جریان تظاهرات افرادی، که وی آنان را وابستگان به طالبان توصیف کرد، از داخل جمعیت به فیر گلوله پرداخته بودند.

برخی گزارش ها از حمله چند تن از تظاهرکنندگان به افسران با استفاده از کارد حکایت دارد.

از برگزاری تظاهرات دیگری در اعتراض به چاپ کاریکاتورهایی از پیامبر اسلام در سایر نقاط کشور از جمله کابل، پایتخت نیز گزارش هایی رسیده است اما این تظاهرات بدون بروز خشونت خاتمه یافت. ص۴

د پولیسو سرحدي ځواک باید په اړینو وسایلو سمبال شي

په دې وروستیو کې د هیواد په بیو شمیر سیمو کې امنیتي ستونزو زور اخیستی خو تر ډیره دغه ستونزه په هغه ولایتونو کې رامنځته کیږي چې له ګاونډیو هیوادونو سره په پوله پراته دي. چارواکي د بریدونو عاملین له پولې هاخوا ملاتړي بولي او وایي وسله وال کسان د بیو شمیر ګاونډیو هیوادونو نه افغانستان ته رادننه کیږي خو د سرحدي پولیسو چارواکي وایي چې اوس مهال دوی دومره امکانات په واك کې نلري چې په بشپړه توګه د پولو ساتنه وکړي. ۴ مخ

حبیب الله قادری:
برخی از وزراء در قاچاق و تجارت مواد مخدر دست دارند

شماری از وزرای کابینه کشور در قاچاق و تجارت مواد مخدر دست دارند گفته میشود این وزیران بیشتر کمک های جامعه جهانی را درین راه بمصرف میرسانند این مطلب را حبیب الله قادری وزیر مبارزه با مواد مخدر در گفتگوی با خبر گذاری تیلیگراف ابراز نموده است، با اینکه این مطلب چندین بار از سوی مقامات کشور عنوان شده است اما تا هنوز هیچ عضو بلند رتبه دولتی نامبرده نشده است.

کشف یک شرکت مخابراتی بدلیل فعالیت بدون مجوز قانونی

امیرزی سنګین وزیر مخابرات از کشف یک شرکت مخابراتی ایرانی که بدون مجوز قانونی در کشور فعالیت میکرد خبرداد گفته میشود که این شرکت از سال ۲۰۰۵ میلادی در افغانستان فعالیت داشت وی این مطلب را در یک نشست خبری که شام دیروز در مرکز مخابرات آغاز یافت به خبر نگاران گفت به گفته آقای سنګین این شرکت متعلق به یک شهروند ایران بنام نبی الله بود که به کمک و همکاری شرکت افغان بیسیم با استفاده از وسایل تخنیکی مؤفق به کشف فعالیت غیر قانون آن گردید.

د عفوسازمان د ګوانتانامو زندان دټولو غوښتنه کړې

د عفو نړیوال سازمان تیره شپه په یوخپور شوي رپوټ کې له امریکا څخه د ګوانتانامو د زندان د ټولو او د هغوی د تابعیت او ملیت دیو دقیق لست دجوړولو غوښتنه کړې په دغه جیل کې د۳۵ هیوادونو ۵۰۰ مخې تنه ساتل کیږي ۴مخ

نصب دیزل جنراتور ها در برج های برق آبی عاقلانه و عادلانه نیست

مولا داد (سهیم)

اخیراً مقام محترم وزارت انرژی و اب جهت جلوگیری از قطع لحظوی جریان برق ابی تنها در برخی از نواحی شهر کابل در جنب برج های برق ابی نصب دیزل جنراتور های خریداری شده را هدایت و عنایت فرموده اند و این به خاطر پاسخ گویی مثبت به رفع مشکلاتی است که هموطنان شریف شهر کابل از قلت موجودیت برق و پرچاوی های مقطعی لین های انتقالی سیستم شبکه برق رسانی شاکی میباشند ! بلی منسوبین مسلکی مقام محترم حوزه تولید برق هر انچه در توان دارند نهایت صادقانه در جهت تولید انتقال وتوزیع انرژی برق مطابق به امکانات ظرفیت تولیدی مولد ها تپ و تلاش می نمایند هویدا است که مولد های نیروی ابی موجود فعال تاریخ گذشته و شدیداً مستعمل قادر نبودند و نیستند تا مطالبات مجموعی ضروری شبکه مصرفی شهر کابل را بر اورده سازند فقط روی همین علت بود که وزارت محترم انرژی و اب نصب چندین پایه دیزل جنراتور های توریدی را مطابق به مشوره مشاورین مسلکی در برخی از ساحات محدود شهر کابل هدایت داده اند.

ما قبول می نمائیم هر اقدامی که از جانب مسوولین امور برق رسانی وزارت انرژی و اب جهت رفع مشکلات مردم ما ناشی از کمبود انرژی برق روی دست گرفته شود جداً قابل قدر است ولی باید در نظر داشت که کابل افغانستان نیست و هر انچه به کافه ملت تعلق داشته باشد باید طور عادلانه به مردم تعلق گیرد در حالیکه همین حالا اکثریت مناطق کشور از موجودیت نور وانرژی برق محروم بوده و چه بساکه اهالی این مناطق حتی به نور برق هم اشنائی ندارند و صد ها تاسیسات دولتی و مراکز صحی درمانی و شفاخانه ها در مناطق مختلف کشور از نبود انرژی برق رنج میبرند و نصب دیزل جنراتور های خریداری شده در ساحات محدود شهر کابل بد لایل اتی میتواندیک اقدام نابجا ناروا و غیر عادلانه مورد مداقعه و ارزیابی مسلکی قرار گیرد.

۱- از اینکه وزارت انرژی واب هر گز قادر نخواهد بود تا تمامی ساحات شهر کابل را بدون استثناء از فیض وجود انرژی برق دیزل جنراتورهای ناحیه مستفید سازد بناءً این عمل امتیازی فاقد عدالت اجتماعی در امور برق رسانی سر و صداهای شکایت امیز عدالت خوا هانه را نیز علیه شخص جناب محترم وزیر انرژی واب بوجود خواهد اورد.

۲- نصب دیزل جنراتور های دیزلی در ردیف برج های برق ابی در شهر کابل باب دیگری از ایجاد درد سر و مشکلات عدیده ناشی از تهیه مصارفات روغنیات مواد ضرورت دیزل جنراتور های حرارتی و اماده سازی پرسونل جدید تخنیکی و اعمار سیستم جدید حرارتی به موازات سیستم ابی چهار صد ولت برق شهری بروی وزارت انرژی و آب باز می نماید.

۳- در موجودیت برق ابی مولد های ناحیه حرارتی هرگز اجازه ندارند که فعالیت تولیدی داشته باشند بناءً توقف تولیدی این نوع مولد های حرارتی در صورت موجودیت برق ابی در برج ها زمینه بهره انها را به رکود مواجه و زمینه خارج از ضرورت به بهره برداری را که یک ضرورت عاجل مبرم حیاتی و لحظوی برای تک تک فامیل های که به انرژی ضرورت دارند ولی سالها از ان محروم اند بوجود می اورد.

۴- در شرایطی که ما در سیستم برقی سازی و برق رسانی دست تگدی را به دیگران در از کرده ایم باید به شیوه تعادل منصفانه در توزیع انرژی برق کار گرفت و نه اینکه یک ساحه طور لحظوی از ان مستفید و ساحه دیگر در شبهای تار ظلمانی ناشی از عدم موجودیت نور و انرژی برق رنج برند.

۵- باید مقام وزارت انرژی و آب برج های برق ابی فعال موجود را با نصب ترانسفار مر ها تقویت نمایند و مردم شریف شهر کابل اینکه حتی دو شب در میان هم حد اقل از برق مستفیدمی شوند شکر خدا را به جا اورند اما وای و بدا به حال اهالی مناطقی که متاسفانه مظلومانه روزها هفته ها و ماه ها از انرژی برق محروم اند و با تحمل قناعت خاطر از خواهشات اضافی منصرف گردند و به وزارت انرژی واب موقع دهند تا در توزیع عادلانه انرژی برق مسوولیت اش را ادا نماید.

۶- وزارت محترم انرژی و اب باید از نصب جنراتور های خریداری شده در جنب برج های برق شهر کابل متصرف شده این جنراتور ها در ساحاتی نصب و به کار گرفته شود که ضرورت عاجل عدالت پسندانه به انرژی برق احساس میشود چه درین اقدام هم عدالت تامین است و هم رضای خداوند.

هموطنان شریف ما باید بدانند که قلت انرژی برق در شهر کابل ضربه غیر قابل جبرانی را بر منافع عایدات اسعاری وزارت انرژی و اب نیز وارد ساخته و وارد میسازد چه وزارت انرژی و اب بدون عایدات اسعاری انرژی برق به مشکلات عدیده و رکود جدی عایدات خود کفایی اسعاری مواجه میگردد و انچه به توزیع برق های ۲۴ ساعته طور دزدی و غیر عادلانه برای پولداران و زور مندان تعلق میگیرد باید صادقانه اذعان نمود که شخص وزیر انرژی و اب این موضوع را مستقیماً تحت نظر گرفته است چنانچه هفته قبل خاینینی را که درین راستا ملوث بودند به جزای شدید تا سرحد معرفی به څارنوالی محکوم نمودند ما جهت برقی سازی مکمل شهر کابل وکشور به وقت و امکانات با القوه فزیکی ضرورت داریم که انشاء الله روزی طور هم جانبه و فراگیر به این روح منزه و شفاف تعالی جامعه دسترسی حاصل خواهیم نمود ولی بگذار این موهبت درخشان فزیکی عادلانه کلبه ها را منور سازد.

د قانون له چټک تطبیق پرته سراسری امن ټینګ راتلای نه شي

ناهید

خومره چې انسان اوبو او خوړو ته ضرورت لري په هماغه اندازه په یوه ټولنه کې د اوسیدونکو ژوند ره امن او امنیت مهم دی خو له بد مرغه چې ټولنو په ټولنه کې د خلورو کلونو په موده کې د سراسري امن په برخه کې د هیوادوالو اندیښنی زیاتی شوی اولا زیاتیږي اصلاً خو داسې هیله و ه چې باید تر پرون لا څو برابره امن او قانونیت زیات شوی وای مونږ د پرون په شیبو کې ولیدل چې د هیواد له یوه سر څخه تر بل سر پورې د شپې او ورځې له پیسو سره سپرلی او پلی خلک روان وو د هر چا د سر او مال خطره موجود نه وه په ندرت سره به چیرې کومه دغلا او چور پېښه وشوه که څه هم له طالبانو سره له پاکستان او سعودی پرتنه نورې ښکاري مرستې موجود نه وي خو سره لدې چې د هغوی کړنلاره د وروسته پاتې کیدو لپاره لاري برابرولې او د هغوی د واکمنۍ د پاینبت په پراوونو کې د پرمختګ نښې نښانې رامنځته کیدلای نشوي.

او همدا وجه وه چې په ډیره لنډه موده کې اولس د هغوی په اهدافو باندې پوه شو او عملاً یې خپله همکاري ورسره پای ته ورسوله د طالبي واکمنۍ په ټوله دوره کې چې د هیواد په ۹۵ فیصده خاوره یې واکمنۍ د لوده د هیواد او هیوادوالو د ژوندانه د ټرلو خواوو د پرمختګ وله نړیوالو سره د برابرولو په برخه کې یې نه سیالی کولی شوه اونه یې غوښتل خو د هغی واکمنۍ په ټوله دوره کې دوه ډوله اجرااتو خلک خانته نږدی کړی وو یو د هغوی د مشر ملا محمد عمر د فرمانونو تطبیق چې د شپې به اعلان شو په سبا ته به دهیواد په ټوله هغه برخه کې چې د هغوی په لاس کې به وه دتطبیق وړ و او هیڅا تری سرغړولی نشو او دویم دا چې په سراسري خپله سیمه کې یې امن او امنیت راوستی و خو که چیرې اوس وګورو د هغوی ددغو کړنو پر خلاف د خلورو کلونو په موده کې زیاته موده ده که چیرې د بازسازی په برخه کې نه قانون عملی شو نه د ولسمشر فرمان چا عملی کړ بس هر څوک چې څومره یې وس رسیږی په هماغه اندازه له قانون څخه د ځان په ګټه سرغړونه کوی مونږ د ولسمشر ډیر اوامر ګورو چې په یوه ښه نه په یوه ښه په کې د تطبیق په برخه کې ناغیړی کیږي چې داکار په دولت باندی د اولس باور او اعتماد پای ته رسوي د خلورو کلونو په موده چې زیات امکانات نه لرو خو د سراسری امن په برخه کې د هیوادوالو ژوند ته ضرورت لری نه هماغه اندازه په یوه ټولنه کې د اوسیدونکو ژوند ره امن او امنیت مهم دی خو له بد مرغه چې ټولنو په ټولنه کې د خلورو کلونو په موده کې د سراسري امن په برخه کې د هیوادوالو اندیښنی زیاتی شوی اولا زیاتیږي اصلاً خو داسې هیله و ه چې باید تر پرون لا څو برابره امن او قانونیت زیات شوی وای مونږ د پرون په شیبو کې ولیدل چې د هیواد له یوه سر څخه تر بل سر پورې د شپې او ورځې له پیسو سره سپرلی او پلی خلک روان وو د هر چا د سر او مال خطره موجود نه وه په ندرت سره به چیرې کومه دغلا او چور پېښه وشوه که څه هم له طالبانو سره له پاکستان او سعودی پرتنه نورې ښکاري مرستې موجود نه وي خو سره لدې چې د هغوی کړنلاره د وروسته پاتې کیدو لپاره لاري برابرولې او د هغوی د واکمنۍ د پاینبت په پراوونو کې د پرمختګ نښې نښانې رامنځته کیدلای نشوي.

او همدا وجه وه چې په ډیره لنډه موده کې اولس د هغوی په اهدافو باندې پوه شو او عملاً یې خپله همکاري ورسره پای ته ورسوله د طالبي واکمنۍ په ټوله دوره کې چې د هیواد په ۹۵ فیصده خاوره یې واکمنۍ د لوده د هیواد او هیوادوالو د ژوندانه د ټرلو خواوو د پرمختګ وله نړیوالو سره د برابرولو په برخه کې یې نه سیالی کولی شوه اونه یې غوښتل خو د هغی واکمنۍ په ټوله دوره کې دوه ډوله اجرااتو خلک خانته نږدی کړی وو یو د هغوی د مشر ملا محمد عمر د فرمانونو تطبیق چې د شپې به اعلان شو په سبا ته به دهیواد په ټوله هغه برخه کې چې د هغوی په لاس کې به وه دتطبیق وړ و او هیڅا تری سرغړولی نشو او دویم دا چې په سراسري خپله سیمه کې یې امن او امنیت راوستی و خو که چیرې اوس وګورو د هغوی ددغو کړنو پر خلاف د خلورو کلونو په موده کې زیاته موده ده که چیرې د بازسازی په برخه کې نه قانون عملی شو نه د ولسمشر فرمان چا عملی کړ بس هر څوک چې څومره یې وس رسیږی په هماغه اندازه له قانون څخه د ځان په ګټه سرغړونه کوی مونږ د ولسمشر ډیر اوامر ګورو چې په یوه ښه نه په یوه ښه په کې د تطبیق په برخه کې ناغیړی کیږي چې داکار په دولت باندی د اولس باور او اعتماد پای ته رسوي د خلورو کلونو په موده چې زیات امکانات نه لرو خو د سراسری امن په برخه کې د هیوادوالو ژوند ته ضرورت لری نه سیالی کولی شوه اونه یې غوښتل خو د هغی واکمنۍ په ټوله دوره کې دوه ډوله اجراتو خلک خانته نږدی کړی وو یو د هغوی د مشر ملا محمد عمر د فرمانونو تطبیق چې د شپې به اعلان شو په سبا ته به دهیواد په ټوله هغه برخه کې چې د هغوی په لاس کې به وه دتطبیق وړ و او هیڅا تری سرغړولی نشو او دویم دا چې په سراسري خپله سیمه کې یې امن او امنیت راوستی و خو که چیرې اوس وګورو د هغوی ددغو کړنو پر خلاف د خلورو کلونو په موده کې زیاته موده ده که چیرې د بازسازی په برخه کې نه قانون عملی شو نه د ولسمشر فرمان چا عملی کړ بس هر څوک چې څومره یې وس رسیږی په هماغه اندازه له قانون څخه د ځان په ګټه سرغړونه کوی مونږ د ولسمشر ډیر اوامر ګورو چې په یوه ښه نه په یوه ښه په کې د تطبیق په برخه کې ناغیړی کیږي چې داکار په دولت باندی د اولس باور او اعتماد پای ته رسوي د خلورو کلونو په موده چې زیات امکانات نه لرو خو د سراسری امن په برخه کې د هیوادوالو ژوندانه د ټرلو خواکوانو په وړاندی

برابرولو په برخه کې یې نه سیالی کولی شوه اونه یې غوښتل خو د هغی واکمنۍ په ټوله دوره کې دوه ډوله اجراتو خلک خانته نږدی کړی وو یو د هغوی د مشر ملا محمد عمر د فرمانونو تطبیق چې د شپې به اعلان شو په سبا ته به دهیواد په ټوله هغه برخه کې چې د هغوی په لاس کې به وه دتطبیق وړ و او هیڅا تری سرغړولی نشو او دویم دا چې په سراسري خپله سیمه کې یې امن او امنیت راوستی و خو که چیرې اوس وګورو د هغوی ددغو کړنو پر خلاف د خلورو کلونو په موده کې زیاته موده ده که چیرې د بازسازی په برخه کې نه قانون عملی شو نه د ولسمشر فرمان چا عملی کړ بس هر څوک چې څومره یې وس رسیږی په هماغه اندازه له قانون څخه د ځان په ګټه سرغړونه کوی مونږ د ولسمشر ډیر اوامر ګورو چې په یوه ښه نه په یوه ښه په کې د تطبیق په برخه کې ناغیړی کیږي چې داکار په دولت باندی د اولس باور او اعتماد پای ته رسوي د خلورو کلونو په موده چې زیات امکانات نه لرو خو د سراسری امن په برخه کې د هیوادوالو ژوندانه د ټرلو خواکوانو په وړاندی

جنګیږی هلته د جګړو له املې امن نشته او ورځ په ورځ خرابیږی او بلې ستونزه په هغو سیمو کې ده چې دولیت واکمنی لری د دولت د واکمنی په سیمه کې د غلو وژونکو لاروهونکو او تښتولو ستونزی دی چې امن یې له خطر سره مخ کړی دي.

که څه هم د تیرو کلونو په موده کې د پولیسو له خوا زیات مجرمین او تورن کسان نیول شوی دی نیول کیږی او زیاتیږی خو د هغوی د نسبتی دوسیو د څیړلو په برخه میاشتی او کلونه نیسی چې د دغو نسبتی دوسیو د اوږدوالی او د هغوی د سزا ګانو نه اعلام په برخه کې له څخه امن غواړی او دولت مجبور دی چې د خلکو د ژوندانه د سراسری امن په برخه کې خپل مسولیت سرته ورسوی او په مجرمینو په چټکه قانون تطبیق او اعلان شی چې د خلکو اندیښنی له منځ لاړی شی او امن هم رامنځته شي.

متصدی : نرگس

زن راه مادر راه ستایش کنیم!

د ښځو حقوق په افغاني ټولنه کې داسې یوه موضوع ده چې کیدای شي ډېر زیاتې لیکنې پرې شوې وي ،کتابونه ، مقالې ، سیمیناروونه ، ځیرنیز بحثونه او مباحثې پرې شوې وي او بیا په خاصه توګه ټن ورځ ،دا موضوع نوره هم ډېر زیاته ګرمه شوې ده ،ځکه چې په ګران هیواد کې یو څه نسبي سوله او ارامي راغلی ده ، په مرکز کې یو منتخب حکومت وجود لري او دخلکو هیلې د راتلونکي په باب د امید نه ډکې بریښي ، ګوندې نور به نو هر چاته خپل خپل حقوق په لاس ور شي او هغه قانون ته چې په دې سیمه کې د ۲۵ کلو راهسې حاکم وو یو د پای ټکی کېښودل شي ولې متاسفانه کله چې مونږ په ګران هیواد کې د حقوقو خبره کوو ، ټوله یوازې دا چې د ښځو حقوق ډیر په بې رحمانه توګه غصب شویدي ، بلکې مونږ ویلای شو چې له سره چا د حق ورکولو یوه لحظه سوچ هم نه دی ورته کړای په هر حال مونږ دا ویلی شو چې ددې ټولو کاروان اصلي لوبغاړی نران او قربانیان یې زمونږ مظلومې ښځې دي .

لا د ښځو په مسله کې ځینې خلک له دومره ډېر افراط څخه کار اخلي چې اکثره له هغوی څخه نه یوازې خپله اصلي موضوع پاتې کېږي بلکې د خپل کلتور او مذهب نه ډېر لرې د یوې خبرې ثابتول غواړي ولې ځینې نور ډېر داسې خلک شته چې اصلاً دا موضوع د بحث وړ نه ګڼي ، خو په هرحال زه دا وایم چې زمونږ دین له نن څخه ۱۴ سوه کاله پخوا کوم حقوق ورکړي دي چې نن هم هغه حقوق زمونږ ټولنه ورته نه ورکړل شي ، نو بیا مونږ حق لرو چې ووایو چې نور ، نو دا موضوع د بحث وړنه ده .

پدې باره کې خصوصاً زمونږ په دیني عالمانو ډېر زیات ذمه واري راځي چې نور نو خپل وطنوال پدې باره له اصل حقیقت څخه خبر کړي .

مقالې ، مضمونونه ، تقریرونه او تحقیقي کارونه وکړي ، تر څو موضوع په ښه شان ښکاره او تعقیب شي ددې نه علاوه د عصري تعلیم لرونکې شخصیتونو باندې هم دا فرض جوړېږي چې ددیني عالمانو دغه ځیرنیز کارونه ددنیا په نورو ژبو ترجمه او چاپ کړي

ددې کار ګټې ډېرې زیاتې دي اول قدم کې خو به دهغو خلکو ځولې د همیشه لپاره بندې شي چې زمونږ د مبین دین په باره کې شکونه او شبهات لري اویا ننقیدونه کوي ، دویمه په زړه پورې ګټه به یې دا وي چې دنیا به پوهه شي چې نه زمونږ مذهب او نه کلتور د جمو دښکار دی اودا چې دواړه زیات مترقي دي . او دلته هېڅ ته پر بل باندې د ظلم او جبر کولو حق نشته دلته هر چاته خپل خپل حقوق حاصل دي . او د پردې په حق باندې تیرې نه یوازې یو ګناه ګڼې شی ، بلکې یو جرم دی چې د هغې با قاعده پوښتنه کېږي .

دا چې اسلام ښځې ته د مور خور او ښځې ته په حیث کوم حقوق ورکړي د دنیا هر بل نظام د هغه له مثال ورکولو ځخه عاجزه دی ، بلکې زما خو دا عقیده ده چې تاریخ به همېشه دداشان مثال ورکولو نه قاصره وي دا ببله خبره ده چې مونږ پخپله دغه هر څه هېر کړي دي .

ما دلته زیات کوښښ کړی هغه څه ولیکم چې یا خو ما پخپله لیدلي او د نورو خلکو د سترګو لیدلی ریښتینی حال وی او دا زما په ګمان داسې کارونه دي چې نه خو زمونږ ددینه او نه یې کلتور سره څه اړیکه یا سمون شته . زه په ډېر تاسف سره باید ووایم چې زمونږ د ټولنیزو غلطیو څخه یو ه هم دا راغلې ده چې کله مونږ زغرده دا ویلی شم که مونږ قلم رواخلو او ددوی ټکلیفونه لیکل شروع کړو ، نو زه پدې یقین لرم چې ددې کار سرته رسول یوازې دیو ادیب ، شاعر ، لیکوال یا تاریخ پوه په وس پوره نه ده ،بلکې په سلګونو شاعرانو ، لیکوالو او پوهانو ته به ضرورت وي چې زمونږ د مظلومو خوېندو دغه ډول تکلیفونو د کاغذ پر مخ ولیکي اوداکار کیدای شي کلونه کلونه واخلي ولې زه په دې افسوس کوم چې په دې وطن کې دومره زیاتو لیکوالو شتون با وجود چا ددې همت ونه کړ چې په دې ډېره ضروري مسله لیکنې سوزی کړو .

ډېر بچیان یې دروغتیایي اسانتیا وو د نشتوالي له کبله او یا یې په دې اوږده وجه د خپل ځیګر نه جدا شو ډېرې میندې په نري رنځ یا په نورو ډول ډول مرضونو اخته شوې ډېرې بیا په پردو وطنونو کې په سوال کولو مجبوره شوې د سوال کولو په دې جریان کې ډېرې بې عفته شوې ما پخپله ولیدې چې کله به دوې سوال کولو،نو خلکو ورته وویل چې که مخ دې یو خل ښکاره کړو نو روپۍ یا خیرات به درکړم که نه نو نشته ما چې به دالیدل نو زړه کې به مې یوازې دیو سوچ کاوه چې کاشکې زمونږ د وطن هغه خیانت کاران اوس مو جود وای ، نو کیدای شي چې څه افسوس ورغلی وای او نور یې ددې وطن د وروانولو او ددې مظلوم اولس له خوړولو له لاس اخیستی وای

وښې نه کرانه وه چې زما دغه اوازد چا اوریدلې وای او یا یې د خپلې خوردغه بې عزتي پخپلو سترګو لیدلی وای ځینې نوري خو بیا دخپل وطن نه په زرګونو کیلو متره لرې په پنجا بو او کراچۍ او داسې نورو ځایونو کې له ډېرې بې وسۍ ځخه او د خپلو مور ، پلار او نورو خپلوانو نه لرې په بندو قلاګانو کې اوس هم د مرګ په انتظار شپې او ورځې سبا کوي او ما چې به ډېر خل دا حالت په خپلو سترګو لیدو .

نو د پښتو هغه ټپه به رایاده شوه چې وایي

اختر ته خویندې خوشالیږي
بې وروره خوبندې دیوالوته
ناستي وینه
او یا دا چې
چا یې پلو لیدلی نه و
اوس د جمرود په غاړه ځی
سر تور سرونه

پس از انتخابات ، شرایط کار حقوق بشر در افغانستان

سیمیناری تحت عنوان افغانستان پس از انتخابات و شرایط کار سازمان حقوق بشر در افغانستان که با همکاری دفتر سازمان عفو جهانی شهر هامبورک در شهر Wurzburg المان که به تاریخ 20 نوامبر 2005 میلادی برگزار گردیده بود در ان تعداد زیادی از افغانها و المانی ها به شمول خانم داکتر سیما ثمر رئیس سازمان مستقل حقوق بشر افغانستان و اقای Markus Haake مسول بخش ماین پاکی در افغانستان شرکت کرده بودند.

خانم سیما ثمر از شرایط دشوار کار کمیسیون حقوق بشر در افغانستان سخن خود را چنین اغاز کرد و گفت این کمیسیون در هفت ولایت افغانستان نماینده گی دارد و بیش از 400 کارمند زن و مرد در بخش های مختلف مشغول کار اند. وی تخلفات رادر بعضی از موارد انتخابات پارلمانی و شورای ولایتی افغانستان تائید کرد ولی از دست اوردهای انتخابات نیز یاد اورشد. خانم سیما ثمر در رابطه به اختطاف اطفال در افغانستان سخن گفت و اینکه در چند مورد اختطاف کنندگان به نیروهای امنیتی تسلیم داده شده ولی روز بعد هم طفل ربایان رها گردیده و اطفال ربوده شده را نیز با خود برده اند وی افزود تا زمانیکه فساد اداری از بین نرود نمیتوان با این پدیده های شوم مبارزه کرد.

خانم سیما ثمر خشونت علیه زنان را یکی از چالش مهم در پروسه دموکراسی دانست و مبارزه علیه ان را بدون کمک تمام نهاد های اجتماعی و فرهنگی در جامعه غیر ممکن توصیف نمود وی خود سوزی زنان در افغانستان را یکی از پدیده های شوم خشونت علیه زنان بیان کرد وعدم دستگیری و به محاکمه کشاندن خیلی ازمتهمین به سوزاندن زنان را بسیار نگران کننده خواند. در این سیمینار که تعداد زیادی ازکارشناسان حقوق بشر شرکت کرده بودند بی قانونی و فساد اداری در ادارات بخصوص دستگاه قضایی افغانستان و به رسمیت نشناختن حقوق ابتدایی زنان را که حتی به انان اجازه ورود به مراکز حقوقی را نمی دهند و درخیلی از موارد زنان اجازه شکایت علیه مردان را ندارند یکی از عوامل مهم خشونت علیه زنان معرفی نمودند.

خانم سیما ثمر در ختم سخنان خود گفت تا زمانیکه کرامت انسانی در جامعه وجود نداشته باشد دیموکراسی بوجود نخواهدامد.

خانم karola Scharf یکی از فعالین سازمان حقوق بشر در امور پناهندگان افغان در المان خشونت علیه شهروندان افغانستان به خصوص زنان افغان را یکی از مشکلات عمده جامعه دانست و گفت قوانین و حقوق مردم افغانستان باید مطابق به استاندارد های بین المللی باشد وهم در مقابل قانون یکسان باشند در صورتیکه فعلاً در افغانستان در همه موارد چنین نیست.

مادرم باور نمی کند!

نوشته اند!

زمانی که نادرشاه افشار ، عزم تسخیر هندوستان داشت، در راه کودکی را دید که به مکتب می رفت. از او پرسید: پسر جان چه میخوانی؟

- قران.

- از کجای قرآن؟

- انا فتحنا...

نادر از پاسخ او بسیار خرسند شد واز شنیدن ایه فتح فال پیروزی گرفت سپس یک سکه زر به پسر داد او نگرفت ، نادر گفت چرا نمی گیری؟

پسر گفت: مادرم مرا می زند و می گوید که تو این پول را دزدیده ای نادر گفت: به اوبگو سکه نمی داد زیاد می داد!

حرف او بردل نادر نشست یک مشت پول زر در دامن او ریخت و به راه افتاد از قضا چنانکه مشهور تاریخ است نادر همانگونه که فال گرفته بود بر محمدشاه گورگانی پیروز شد.

نادر داده است.

پسر گفت: مادرم باور نمی کند می گوید نادر مرد سخی است،او اگر به تو پول می داد یک

د ډاینا سور انجام

شفیقی

د تاریخي څېړنکو نظر دادی چې له تاریخ نه وړاندې تر ټولو سترو ځناورو سوسمارانو «ډاینا سور» د ورکیدو لامل ددوی خپل زور او ځواک و، وایي چې کله ډاینا سورانو د ځمکې د مخ وانبه او نور د خوړو وړ شیان ونغرل نو بیا یې یو پر بل مخ را واړوه او پخپلو کې یې سره وخوړل، چې کوم یې خپلو کې سره نوش جان کړل ولاړل، پاتې یې دومره ټپي او خراب تراب شول چې له خوځیدو ولویدل، بیا نو دځمکې نور حشرات او وړوکي چینچي پرې وروختل او په رڼو سترګو یې دوی وشپیلل.

د نمرود کیسه هم همدغسې وه، هغه چې دومره ستر شو چې د خدایي دعوه یې وکړه همدغه مهال یوې میاشتې له پښو وغورځاوه.

د خدای دنیا ده په هر څه کې یې اعتدال دی او دغه نړۍ پر اعتدال ولاړه ده، په زور او کمزورۍ دواړو کې یې ورکه ده هغه د علامه اقبال په وینا کمزورۍ او ضعیفي هم «مرګ مفاجات» دی، او ډیر زور هم، چې بالاخره هر زورور د ډاینا سور پر برخلیک واوړي.

دلته داسې نظام ته هم اړتیا ده چې ژوندی پکې په یوه ټاکلی اندازه لویوالی او وړوکوالی واوسي، چاته پکې د ډاینا سور کیدو مجال هم نه وي چې هر څه ونغري او څوک پکې د بې آزاره او بې وسه ژویو او یا وښو په څیر هم نه وي چې کوم ډاینا سور یې تر ستوني تیر کړي.

د ډاینا سور د پیدایښت او ورکیدو فرضیه به پر ځای پریږدو د نړۍ دا لنډه ماضي چې همدغه موږ یې شاهدان یو ددغسې ډیرو پیښو ثبوتونه لري.

په لنډه ماضي کې زموږ شمال لوری ته سور ډاینا سور پروت و چې راوخوځید او زموږ هیواد یې تر ټټر لاندې کړ، خو بیا له هماغه برخلیک سره مخ شو چې د تاریخ نه وړاندې د نړۍ تر ټولو ستر ځناور ډاینا سور ورسره مخامخ شوی و.

دادی کلونه وشول چې (شوروي اتحاد) رنګ دی، هغه هیواد چې غوښتل یې ډاینا سور شي، غوښتل یې نور اولسونه تر ستوني تیر کړي، غوښتل یې د نورو اولسونو نوم ورک کړی، دادی پخپله د تاریخ یو تیر باب دی، خو کاشکی د تاریخ له دغه ژوندي مثال نه هغه ځواکونه عبرت واخلي چې د تاریخ د «ډاینا سور» کیدو شوق او مینه لري او نورو اولسونو ته یوازې د یوې غوړې مړۍ په توګه ګوري.

ناټو د هیواد په جنوب کې:

آیا دا به د ریښتیني سولې په معنی وي؟

عبد الکریم خرم

پښل شوې ده چې دناټو تر قوماندې لاندې قوتونه چې ټول په اروپایي هیوادونو پورې اړه لري په راتلونکي پسرلي کې د هیواد په جنوبي سیمو کې ځان پر ځای شي. هالنډ پارلمان هم له زیات تردید وروسته دا ومنله چې ددغه هیواد یو زر او ځلور سوه عسکر ازرګان ته ولاړ شي.

د لندن دکنفرانس له بریالي پایې ته رسیدو علاوه دا یو بل ښه خبر دی چې زموږ هیوادوال یې اوري. د هیواد جنوبي او شرقي سیمې د فوق العاده اهمیت نه علاوه ځانته خصوصیات لري په لنډه توګه دا خصوصیات داسې بیانولی شو:

۱ د انګریزانو د تیرۍ په وخت کې د ډګرو تمرکز زیاتره د هیواد په جنوبي او شرقي سیمو کې و، په همدغه غرنۍ منطقه کې د وخت له ستر قدرت سره زیاتې ډګرې وشوې او دغه ډګرې د هیواد تر آزادۍ پورې جاري وي. همدا رنګه د پخواني شوروي اتحاد د تیرې په مقابل کې هم مقاومت له همدغو سیمو کې سخت و او دا سیمې د مجاهدینو د اکمالاتو یواځینۍ لارې وې، په همدې علت په یادوو شویو سیمو کې د شوې بد حالت د هیواد داخلي او بهرنیو دښمنانو له خوا د غلطې استفادې وړ وګرځید او په اصطلاح د پښتنو د حقوقو د اعادې تر شعار لاندې د پښتنو د تباه کولو د پلانونو عملي کول را ګرځندي شول.

په دې ډګ کې ځینې وختونه د خلکو دشخصي دښمنیو له املې هم ائتلافي ځواکونو ته مغرضانه او غلط راپورونه ورکړل شول تر څو دعکس العمل په توګه تر سره شوی پوځي عملیات لا نور هم خلك له حکومت څخه لیرې کړي او امنیت نور هم خراب کړي.

په دې توګه بهرنۍ دسیسه کومه چې پښتانه یې نړیوالو ته تروریستان او افراطیان معرفي کول او ددوی پر ضد د عملیاتو په ترسره کیدو یې دوی له حکومت لیرې کول متاسفانه تر ډیره حده کامیابه شوه.

اوس چې ناټو غواړي په دغو سیمو کې خپل قوتونه ځای پر ځای کړي د بهرنیو پوځیانو ماموریت ورسره ژور بدلون مومي. د ایساف چارواکو دا په ډاګه کړي ده چې د افغانستان په جنوب کې به ددوی اصلي ماموریت جنګي عملیات نه بلکې د سولې تقویت او د بیا جوړولو کارونه وي. دغه قوتونه به لاسنه کول نا ممکن شي. د ولایتي بیا جوړولو د ټیمونو په ایجادولو سره د جنوبي ولایتونو په بیا آبادولو کې ستره ونډه ولري.

ددې حقیقت په نظر کې نیولو سره چې «امنیت» یو پراخ، وسیع او څو اړخیزه مفهوم دی نو تامینول یې هم یواځې له پوځي طریقو ممکن نه دی، په ټیره بیا زموږ په ننۍ نړۍ کې ډیر نور فکتورونه دي چې د امنیت په تامین کې د زور د اعمالولو ترڅنګ حیاتي او مهم رول لري. له دغو فکتورونو څخه یو اقتصادي او بل سیاسي او ټولنیز مشارکت دی.

که له اقتصادي پلوه دافغانستان په نا آرامو جنوبي سیمو کې اساسي کارونه تر سره شي او بیا آبادول پیل شي نو خلکو ته به په مثبتو فعالیتونو کې د ګډون زمینه برابره شي. په دې توګه به له یوې خوا د خلکو د ژوندانه شرایطو ښه شي او له بلې خوا به د هیواد دښمنانو ته د مفت انساني قوت تر خبیثه دایره په مثبت حرکت او سلیمه دایره بدل کړي. د افغانستان په سرنوشت کې د یادوو شویو سیمو د اهمیت په نظر کې نیولو سره داتمه کیدای شي چې دغه بدلون به هیواد ته د مطمئین سولې او ثبات د راتلو پیلامه وګرځي.

د پولیسو سرحدي ځواک...

د سرحدي پولیسو د عمومي ریاست مرستیال جنرال عبد الرحمن وایي مونږ د کورنیو چارو د وزارت په چوکاټ کې دولس زره کسیز جوړښت لرو چې اوس مهال له دغې ډلې اته زره په دندو ګمارل شوي دي جنرال عبد الرحمن وایي چې هم د ګاونډیو هیوادونو سره د هیواد اوږدو او یو شمیر جنجالي پولو ته په کتو د سرحدي پولیسو اوسنی کچه کمه ده خو بیا هم که اوسنی سرحدي ځواک په اړینه وسایلو او وسایطو سمبال کړل شي نو وبه کولې شي په تکتیکي توګه خپلې دندې سرته ورسوي.

چارواکو ته رسولې او په دې برخه کې را سره د مرستو ژمنې شوې چې ددغو مرستو په پلي کیدو سره به سرحدي ځواک په اړینه وسایلو او دولت د راتیټې شي دی وایي مونږ زیاتره امنیتي ستونزې لرو او دلته مونږ د مخدره توکو د قاچاق وړونکو، القاعده او نړیوالی مافیا سره مخ یو.

جنرال عبد الرحمن وایي نړیواله ټولنه باید له ګاونډیو سره زمونږ د ستونزو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي او دولت د پولیسو سرحدي ځواک په اړینه وسایلو سمبال کړي تر څو وکولای شو خپلې پولې، په بشپړه توګه تر ولکې لاندې وساتو.

د عفو سازمان...

ډیر شمیر بندیانو دځان وژنې هڅې کړې او په لسګونو تنو یې د ډوډۍ د نه خوړلو په اعتصاب لاس پورې کړی دی.

امریکا وایي ګوانتانامو دامریکا د ژغورنې ځای دی او له بندیانو سره بد چلند نه کیږي.

تظاهرات اعتراض...

تظاهرات در کابل در مقابل سفارت د نمارک صورت گرفته است.

چاپ کاریکاتورهایی از پیامبر اسلام در یک روزنامه دنمارکی در ماه سپتامبر سال گذشته میلادی خشم بسیاری از مسلمانان در سراسر جهان برانگیخت.

با وجود این واکنش ها، روزنامه های دیگری در چند کشور اروپایی با اعلام آنچه حمایت از آزادی بیان می نامیدند، کاریکاتورهای مزبور را دوباره چاپ کردند.

این اقدام منجر به تظاهرات و واکنش مسلمانان در بسیاری از نقاط جهان شده است.

در همین رابطه حسن السبع، وزیر داخله لبنان به دنبال تظاهراتی که منجر به حمله به سفارت د نمارک و سوختن این سفارتخانه در بیروت شد استعفا داده است.

روز یکشنبه (۵ فبروری) جمعیت تظاهر کننده در بیروت با حمله به سفارت دنمارک در بیروت آن را به آتش کشید.

در جریان این حادثه یک نفر جان خود را از دست داد.

روز شنبه (۴ فبروری) نیز در اعتراض مشابهی در دمشق، پایتخت سوریه، گروهی از جمعیت آشوب زده سفارتهای دانمارک و نروژ را به آتش کشیدند.

ERADA Daily

ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیر نظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی